مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۴/۰۴/۰۵

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۶۱ مه پرله پسي برخه

## کابل
## او د افغانستان سویل – ختیځې

ایدیت:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

* **ملا آغه جان:** ۵۱ – ۳۲، ۵۳ – ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د مقر د شمال ختیځ په نېـږدې ۷ مایلی کې او غزني ته د تللي لویې لارې په ختیځ کې یو کلی دی.

**ملا اعیان:** دا د بامیانو په درې کې یو کلی دی. (میتلند)

**ملا بشیر:** دا د جلال آباد د ولسوالي د سرخاب په علاقه دارئ کې د کابل د سیند او د «روډ – کامبو» [1] د یو ځای کیدنې په تکې کې یو کلی دی. استوګن وګړي. دهګانان. (جنکینز)

**ملا غفور:** – ۳۴، – ۶۹: دا د کابل د ولسوالي د چاردهي په درې کې د «او شار/ افشار- ژ» د لویدیځ په ۲ مایلی کې یو کلی دی. (آی. بي. سي)

**ملا خا** : [2]: دا د غزني د سویل لویدیځ په ۹۰ مایلی کې، کندهار ته د تللي سرک په اوږدو کې یو کلی دی. (تورنتون)

**ملا خیل:** وګورئ: پوونده

* **ملا خیل:** ۲۳ – ۳۴، ۱ – ۷۱ «ن» :دا د ننګرهار د ولایت په ختیځ کې د لال پورې په شمال کې د نظرخیلو په سیمې کې یو کلی دی. په دې نوم نور ځایونه: د میدان په ولایت کې د میدان د سیند پر غاړه د کوتـهٔ عشرو د لویدیځ په ۱ مایلی کې په ۲۷ – ۳۴، ۴۶ – ۶۸ «ن» کې؛ د کابل په ولایت کې د سروبي په سویل ختیځ کې، کابل ته د تللي سرک په سویل کې په ۲۹ – ۳۴، ۳۹ – ۶۹ «ن» کې.

[1] -Rud -i -Kambu
[2] -MULLAKHA


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**ملا خيل**: ۱۰ ــ ۳۳، ۶ ــ ۶۸ «ج»: دا د غلزيو په سيمي کې د «پناه» [3] په ولسوالي کې يو کلی دی. د دی کلي استوګن وګړي اندړ او تره کي غلزي په ګډه دي. کلي ته نېــږدې اوبــهٔ موندل کــېــږي خو اړتيا توکي په کې په قلت کې دي. (براد فوټ)

**ملا محمد ګل**: دا د جلال آباد د ولسوالي د سرخاب په علاقه دارۍ کې يو کلی دی. استوګن وګړي :غلزي. (جنکينز)

**ملا محمد ګل**: : ـ۳۴ ، ـ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د چپ ريار په علاقه دارۍ کې يو کلی دی. استوګن وګړي :غلزي. (جنکينز)

**ملا يعقوب** : ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا په چاردهي کې يو لوی کلی دی چې د دِهٔ مزنګ د لويديځ په ۲ مايلۍ کې او د غرني د سړک په نيم مايلې کې واقع دی. استوګن وګړي: تاجيکان. (کينيډي) په دې نوم يو کلی په ۲۴ ــ ۳۴، ۴۳ ــ ۶۷ «الف» کې موقعيت لري. (لودويګ آدمک)

* **ملايان**: ۲۰ ــ ۳۴، ۲۵ ــ ۶۹ «ن»: دا د کابل په ولايت کې د خورد کابل په سويل او د خاکِ جبار په سويل لويديځ کې يو کلی دی. په دې نوم نور ځايونه : د کابل په ولايت کې د سروبي د سويل لويديځ په نېــږدې ۳ مايلۍ کې کابل ته د تللي سړک په اوږدو کې په ۳۳- ۳۴، ۴۳ ــ ۶۹ «ن» کې؛ د غزني په ولايت کې د غزني په سويل ختيځ کې او د «مريان مرجان» [4] د شمال په ۳ مايلۍ کې په ۱۹ ــ ۳۳، ۵۰ ــ ۶۸ «ن» کې؛ د پکتيا په ولايت کې د هيبت خيل په شمال او د ګرديز د لويديځ ــ سويل لويديځ په نېــږدې ۱۲ مايلۍ کې په ۳۳ ــ ۳۳، ۲ ــ ۶۹ «ن» کې.

**ملا ظريف خان** ــ ژ: ملا زريب خان : [5]: ۲۹ ــ ۳۴، ۱۵ ــ ۶۹: دا د کابل په ګاونډ کې د لوګر د سيند د کيڼې غاړې په اوږدو کې د بګراميو او د بيني حصار تر منځ يو کوچنی کلی دی. استوګن وګړي: «پاړسيوانان» [6] (کينيډي)

* **مومه**: [7]: ۱۴ ــ ۳۳، ۲۳ ــ ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولايت کې د «ای مي تو» [8] په سويل ختيځ او «ګوشه» [9] ته نېــږدې يو کلی دی.

**مومک**: [10]: ـ ۳۵، ـ ۶۹: دا په هندوکش کې د بازارک د کوتل د شمال په ۴ مايلۍ کې يو کلی دی چې د بازارک د خلکو ۳۳ کورونه په کې ميشت دی. (ليچ)

**مومن:** وګوری: مدوګل

**مومرک**: [11]: ـ ۳۴، ـ ۶۷: دا د باميانو په ولسوالي کې په کلا کې محصور يو کلی دی چې د يو کم عمقه او له ډبرو ډک خوړ پر غاړه چې د شهيدانو د منځغري اوبــهٔ راټولوي واقع دی. د کلي په مقابل لور کې د خوړ پر غاړې د « علاف؟» [12] کوچنی کلا ده. په دغو دواړو کلا ګانو کې په ګډه هزاره ګانو ۴۰ کورنۍ ميشتي دي. (ميتلند)

**ممرک:** [13]: دا د بهسود هزاره ګانو د «کپ ته سان» [14] يوه څانګه ده.

**مونل**: [15]: دا د کابل په چهاردهي کې د افشار او قلعـهٔ حاجي يوسف تر منځ يوه کلا ده. دلته دې کلا کې د تاجيکانو او بارکزيو ۴۰ کورنۍ ميشتي دي. دا کلا ۹ برجونه لري. اوبــهٔ ئــې له يوهٔ کاريز څخه دي. (آی. بي. سي)

* **مناره**: ۴۷ ــ ۳۴، ۴۶ ــ ۶۷ «ن»: دا د باميانو په ولايت کې د «قازان» [16] په شمال ختيځ او د باميانو د سويل لويديځ په شاوخوا ۵ مايلۍ کې يو کلی دی.

---

[3]- Pannah
[4]-Maryan Marjan
[5]-MULLA ZARIB KHAN
[6]-Parsiwans
[7]-MUMA
[8]-Aimaytu
[9]-Gosha
[10]-MUMAK
[11] -MUMARAK
[12] -Alaf
[13]-MUMRAK
[14]-Kaptasan Besud Hazaras
[15]-MUNAL
[16]-Qazan


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

**منګل: مون ګل** : [17]: دا د کافرانو د «مدوګل» د قبـیـلي د ۴۰ کورونو یو کلی دی چي په همدې نوم یوې نالي کې د باشګل د سیند له غاړې څخه لیرې او له سترګو پناه موقعیت لري. (رابرتسن)

**مراد بیګ**: ۳۹ ــ ۳۴، ۵ ــ ۶۹ «ن»: دا د ماما خاتون/ مامه خاتون د کوتل د لویدیځ په ۲ مایلي کې په کوهدامن کې یو کلی دی. دې کلي کې ۱۰۰ کورونه دي او د کلالي لوښو په لرلو سره ډیــر شهرت لري او په همدې اړوند د پام وړ سوداګري لري. هغه قافلې چې له کابل څخه د خاواک د کوتل له لارې د بدخشان د سړک پر لارې راځي (په ۲/۱ ــ ۱۲ مایلي کې) معمولاً دلته خپل لومړی منزل جوړوي. (کینلاچ، آی. بي. سي)

* **مراد خان**: ۴۸ ــ ۳۳، ۱۶ ــ ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د جغتو په لویدیځ کې د «بابر» [18] په شمال لویدیځ کې یو کلی دی.

**مراد خان**: ــ ۳۴، ــ ۶۹: دا د کابل د څلوردهي په درې کې د کابل د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې د «ګذرګاه» او «دِه دانا» تر منځ یو کلی دی. استوګن وګړي: بارکزي او تاجیکان. دلته ۲۰۰۰ کورونه او څلور کلا ګانې دي یعنې:

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | قلعـهٔ محمد کریم خان | بارکزی |
| ۲ | قلعـهٔ شکرالله خان | بارکزی |
| ۳ | قلعـهٔ ملک قربان | تاجیک |
| ۴ | قلعـهٔ جانی | تاجیک |
| | (آی، بي. سي) | |

**مراد خاني**: ۲۹ ــ ۳۴، ۱۵ ــ ۶۹: دا د کابل په ولسوالي کې د «بیني حصار» د ختیځ په ۲ مایلي کې او د لوګر د سیند کیڼې غاړې ته نیــږدې یو کوچنی کلی دی. استوګن وګړي :قزلباشان. (کینیډي)

**مورچه خیل**: مرچه: [19] : دا د لغمان په ولایت کې یو کلی دی. دا کلی له لاندنیو کوچنیو کلیو څخه جوړ سوی دی :

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | قلعـهٔ میا صاحب | قلعـهٔ میان صاحب |
| ۲ | اندروان | Andarwan |
| | (واربرټن) | |

**مورچل**: مرچل: [20]: ۳ ــ ۳۴، ۴۵ ــ ۷۰ «ن»: دا د ننګرهار په ولایت کې د تورخم - جلال آباد د سړک په اوږدو کې د «جاني خیل» د سړک په شمال کې یو کلی دی.

**مرغ ګیران**: ۲۸ ــ ۳۴، ۱ ــ ۶۹ «ن»: دا د کابل په ولسوالي کې د «کوروغ / قرغ» د غرهٔ په شمالي ډډو کې د «قلعـهٔ قاضي» د سویل په شاوخوا ۳ مایلي کې یو کلی دی. استوګن وګړي: «ادرام زي» [21] (آی. بي. سي)

**مرکي خیل**: وګورئ: مرکي خیل

**مرسل**: یا: جلګه: ــ ۳۳، ــ ۶۸: دا د غزني او «داوړ» تر منځ او بلافاصله د «قلعـهٔ نظرخان» او «بند» تر منځ یو کلی دی. د جلګې کلی په عام ډول د هغې هرم ډولي ډبرې له کبله د مرسل په نوم یادیــږي چې ویل کــیــږي د حضرت علي له پلوه دغهٔ کلي ته اچول سوې ده. (مک لین)

**مرتضی**: لوړوالی: ۶۳۶۹ فیټه. دا د «پمبه» او مقر تر منځ له پنبې څخه ۱۲ مایله او له مقر څخه نیــږدې ۶۰ مایله لیرې یو کلی دی. (آی. بي. سي)

**مُرتي**: [22] : دا د پولادا هزاره ګانو یوه څانګه ده.

---

17-Mungul
18-Babur
19-MURCHA KHEL
20-MURCHA KHEL
21-Adramzais
22-MURTI



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

* **موسی دره**: ۱۲ – ۳۵، ۲۶ – ۶۷ «ن»: دا د بامیانو د ولایت په شمال کې د سیغانو د لویدیځ په نبـږدې ۱۵ مایلۍ کې او د «ایرگانې» [23] د لویدیځ په تقریباً ۳ مایلۍ کې یو کلی دی.

**موسی یي**: موسه یي: – ۳۴، – ۶۹: دا د لوگر په ولسوالي کې د لوگر د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې یو کوچنی کلی دی چې له کابله تقریباً ۱۳ مایله لیرې موقعیت لري. استوگن وگړي: حسن خیل. (آی. بي. سي)

* **موسی کلی**: ۳۷ – ۳۲، ۵ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د «ډیله» [24] د شمال ختیځ په څو مایلۍ کې د «خوشامند» [25] د سویل لویدیځ په شاوخوا ۱۰ مایلۍ کې یو کلی دی.

* **موسی خیل** : ۷ – ۳۳، ۱۷ – ۶۸ «ن»: دا د غزني د ولایت د «سردِهٔ روډ» [26] په درې کې د «باتور» [27] په سویل ختیځ کې یو کلی دی. په دې نوم نور ځایونه: د پکتیا په ولایت کې د «لژه» [28] د سویل په نبـږدې ۶ مایلۍ کې د «لژې خوړ» [29] پر غاړه په ۴۱ – ۳۳، ۳۷ – ۶۹ «ن» کې؛ د غزني په ولایت کې د مقر د سویل په نبـږدې ۵ مایلۍ کې په ۴۵ – ۳۲، ۴۷ – ۶۷ «ن» کې موقعیت لري.

* **موسی خیل**: ۳۳ – ۳۳، ۴۴ – ۶۹: موسی خیل د پکتیا د ولایت یوه ولسوالي ده چې ۴۱۰ کیلومتر مربع مساحت او د وگړو شمـېـر ئې چې بزگرې پرگنې دي د ۱۲۵۱۳ تر ۲۱۹۳۷ تـنو تر منځ اټکل سوی دی. دا ولسوالي له لویدیځ لوري له سید کرم، له سویل لوري قلندر، له سویل ختیځ لوري له خوست او نادرشاه کوټ، له ختیځ لوري له «سروتي» [30] او له شمال لوري جاني خیلو او «لاج منگل» [31] سره کربنه لري. موسی خیل څه دباندې ۷۲ کلي لري چې ۱۱ کلي ئې له ۵۰۰ تنو ډېـر استوگن وگړي لري. لنډ مهالې مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Ayebe Alang (Ibe) | ای بي النگ «ای بي» | Girnai (Mulla Mat kai, Mulla Tangai) | | گیراني «ملا مت کی، ملا تنگی» | | Patak | په تک |
| Kharlotai, | خرلوتي | Tarka (Tarkai) | ترکه «ترکي» | Margha Ghalang | مارغه غلنگ | Yorukai | یو روکی |
| ښپری «خه په ری» | | سور «سور کلی» | | Waya (Warya) | وايه «واريه» | Kombarai | کومباري |
| خوجول لاستی | | Sandai | سندي | تنگی | | Tsaparai (Khaparai) | |
| کمکی چستن «چستن سفلی» | | Loy Chestun (Chestun -i- Ulya) | | لوی چستن «چستن علیا» | | Khojol Lasti | |
| پروخیل «پاچا خیل» | | Narai Moti (Mashrai Mati) | | نری موتی «مشری موتی» | | Kamkai Chestun (Chestun -i- Sufla) | |
| شگی «شگه» | | Zenda Mela | زنده میله | Kharkai | خرکي | Paru Khel (Pacha Khel) | |
| ایوب خیل | | Prang Khola | پرانگ خوله | Khosmand | خوس مند | Shegai (Shaga) | |
| Mewah Kahol | میوه کهول | Kaho Khola | کاهو خوله | خیالي کلا | | Shenai | شیني |
| مارم کهول لاجه | | آدم کهول | | یاهوش کهول | | Hawas Kahol | هوس کهول |
| Zar Kahol | زر کهول | Dray Khan Kahol (Darya Khan Laja) | | دري خان کهول «دریا خان لاجه» | | Maram Kahol Laja | |
| Gerdi Khola | گردی خوله | سید علي کهول «سید کهول» | | Bechi Kot | بیچي کوټ | Mugag | موگگ |
| ژوره «پَیده ژوره» | | Lakarai | لکړی | Lador Khola | لدور خوله | Sitkai | سیتکی |

23-Ergana
24-Dila
25-Khoshamand
26-Sardeh Rud valley
27 -Batur
28-Lazha
29-Lazha Khwar
30-Saroti
31-Lajmangal


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزو بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Sur Lador | سور لدور | Sotkan (Sur Kanai) | | سوت کن «سور کانی» | | Zhawrah (Paidah Zhawarah) | |
| Kossin Khola | کسين خولـهٔ | Zol Kot | زول کوټ | Yarghamalay (Arghamal) | | يرغملی «ارغه مل» | |
| خان کهول | | مدور «مَرَوَر» | | خيري | | Palah | پاله |
| Tamke | تم کي | Chakarai | چارکي | Woreshmina (Warshina) | | ورينمينه «ورشينه» | |
| کړه کی «کړه ډزه» | | Zerirah (Zerirai) | | زيريره «زيريري» | | Mana Kahol | مانه کهول |
| Manzi Kalai | منځي کلی | Ghozak | غوزک | Woch Perrai | وچ پړی | Kezha Kai (Kaga Deza) | |
| لوی مزغور | | Kamkai Mazghor | کمکی مزغور | ميران | | Ghoyba | غويبه |
| ببتي مينه خيل | | Lowarah | لواړه | خوشحال | | Shakhal | شاخل |
| Gizha | ګيژه | Khod kai (Ayub Khel -i- Bala) | | خود کی «ايوب خيل بالا» | | Babti -i -Mina Khel | |
| Narai Meti | نری متي | Gulag Golza | ګولک ګلزه | Gharray Kalai | غاړی کلی | Mirzah Kahol | ميرزه کهول |
| سليم کهول | | Kogai | کوګی | Mir Zaki | مير ذکي | Ein Qala | اين قلا |
| Esmat Zhuwar | | عصمت ژور | | Khwashidak | | خواشيدک | |

**موسی خيل**: دا د سهاک غلزيو يوه څانګه ده.

**موسی خيل**: ۲۲ ـ ۳۳، ۱۱ ـ ۶۸ «الف» دا د ،خروټي د کلا، او ،پناه، تر منځ يو کلی دی. دا کلی د يوهٔ غلزي قومي مشر «مهتر موسی» کلی دی؛ مهتر موسی په ۱۸۳۹ کال کې د غزني له سقوط مخکې په غزني کې ميشت د برتانويانو قرارګاه تهديد کړې ووه. خو لړوروسته کله چې اوترام له دې سيمې ليدنه وکړه، اوترام ته تسليم سو. (براد فوټ)

**موسل**: [32] : ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا د کابل د ښار د لويديځ په ۵ مايلی کې د ،چهاردهي، په دره کې يو کلی دی چې ،جنګلک، ته نېـږدې موقعيت لري. استوګن وګړي :تاجيکان. (آی. بي. سي)

**مشک:** وګوری: شيبر: ۴۹ ـ ۳۳، ۳۸ ـ ۶۹ «الف»

* **مشک**: ۲۵ ـ ۳۴، ۳۶ ـ ۶۷ «ن»: دا د باميانو په ولايت کې د نړيدلو برجونو د لړی په شمال کې په «درهٔ کلان خانه» [33] کې يو کلی دی.

**مشکي**: وګورئ: مشکي [34]: ۱۴ ـ ۳۳، ۱۳ ـ ۶۸ «الف»

* **موش خيل**: [35]: ۵ ـ ۳۳، ۴۱ ـ ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولايت کې د يوسف خيلو په شمال ختيځ کې د ،ښرنې، د ولسوالي د مرکز په شاوخوا ۷ مايلی کې يو کلی دی.

**موش خيل**: ـ ۳۳، ـ ۶۸ : دا په زرمت کې له ګرديز څخه د کټواز پر لور د لاړې په دريم منزل کې يو کلی دی. استوګن وګړي: سليمان خيل غلزي. ويل سوي چې په دې ځای کې ۶۰۰ کورونه دي او د کورونو ګرد چاپيره يو لوی ديوال راتاو او تر ديوال لاندې لوی خندق دی؛ کلي ته د ننوتلو لپاره يوازې يوه لاره ده. دا کلی د يوې لوړې سطحې پر مخ ودان سوی دی. (آی. بي. سي)

**مشتان**: [36]: ۵ ـ ۳۵، ۱ ـ ۶۹ «ج»: دا د ،کاوشان، په منځغري کې د غوربند له درې سره د يو ځای کيدلو له ټکي نېـږدې ۴ مايله پورته يو بې وزلی کلی دی چې يوه لويه مربع ډوله کلا هم لري. د کلي ګرد چاپيره د ميوو بڼونه راتاو دي. (آی. بي. سي)

**مشنګي**: [37]: دا د ،پيوار، د کوتل د شمال په ۵ مايلی کې د ،لکړی د کوتل، پر لور د سرک په اوږدو کې يو کلی دی. (ګوردن)

[32]-MUSAL
[33]-Darra -i- Kalankhana
[34]-MUSHAKI See MASHAKI
[35]-MUSHKHELL
[36]-MUSHTAN
[37]-MUSHUNGI


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

**مستوفي عطاء محمد**: ـ۳۴، ـ ۶۹: دا د چهاردهي په درې کې، د دِهٔ مزنګ د لویدیځ په ۱ مایلۍ کې د «غزني – داوړ» [38] د سړک په اوږدو کې یوه کوچنۍ کلا ده. استوګن وګړي: اندړ غلزي. (مک لین) په دې نوم یو کلی په ۴۸ – ۳۳، ۲۴ – ۶۸ «ج» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**میان خیل**: میا خیل: وګورئ: لوهاني

**نبي:** ـ ۳۴، ـ ۶۸: دا د کابل د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې له جلریزو څخه شاوخوا ۴ مایله کوز د غلزیو یو کلی دی. (ونلیس)

* **نبي:** ۱۶ – ۳۴، ۱۰ – ۶۷ «ن»: دا د بامیانو په ولایت کې د «پنج آو/ پنج آب» [39] په سویل ختیځ کې «نو ګیرو» [40] ته نیـږدې د هلمند د سیند د یوې څانګې په اوږدو کې یو کلی دی.

* **نبي کلا** : ۲۸ – ۳۲، ۱۲ – ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د پاکستان د کرښې د لویدیځ په څو مایلۍ کې د «شکین» په سیمې کې د «ژوره الګد» [41] په اوږدو کې یو کلی دی.

**ندک**: [42]: دا د سه پای دای زنګي هزاره ګانو د «میرامور» [43] د قبـیلې د استوګنې یوه سیمه ده.

**نادر ده**: دا له «غزني» څخه تر «شال» [44] پورې د سړک په اوږدو کې یو کلی دی. (تورنتون)

* **نادر شاه کوټ:** ۳۲ – ۳۳، ۴۴ – ۶۹: نادر شاه کوټ د پکتیا د ولایت یوه علاقه داري ده چې ۴۰۵ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـې د ۱۰۱۵۰ تر ۲۰۱۳۵ تـنو تر منځ چې بزګر وګړي دي اټکل سوی دی. دا علاقه داري له لویدیځ لوري له ځدران او شمال [45] سره، له سویل لوري له سپیرې او تـنیو، له سویل ختیځ لوري له مندوزیو له ختیځ لوري له خوست او له شمال لوري له موسی خیلو او قلندر سره کرښه لري. نادر شاه کوټ ۳۸ کلي لري چې ۱۵ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالې مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي :

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Pogai | پوګي | Bar Almarah | بر الماره | Kuz Almarah | کوز الماره | Lora (Lola) | لوره «لوله» |
| بر نوی کوټ | | Nawi Kot | نوی کوټ | Kikha (Kikhi) | | کیخه «کیخي» | |
| ملوي «میلوي» | | Kaprai | کپري | نادر شاه کوټ | | کوز نوی کوټ | |
| شمباوت «شباوت» | | Gedar Wala | «ګدر وله» | Geda Wara | ګډه وره | Malwai (Milwai) | |
| Tor Zawa | تور زاوه | Kani | کاني | Polisi | پولیسي | Shambawat (Shabawat) | |
| Dawa Manda | دوه منده | Aspirakai | اسپیرکي | Zangai | زنګي | سپینکی قلندر | |
| سپیکان «سپیکانزي خیل» | | Glorga (Shin Group) | | ګلوره «شین ګروپ» | | Manzaka | منزکه |
| Mir Goli (Mir Goray) | | میرګلي «میر ګوري» | | Tamboka | تمبوکه | Spikan (Spikanzai Khel) | |
| Bogh Zeni Khel (Bagh Aka Khel) | | بوغ زیني خیل «باغ اکاخیل» | | Spar Kai (Chaparai) | | سپرکی «چپري» | |
| شولګر | | مقبل «باغ مقبل» | | Soway Joyezai Khel | | سوي جویزي خیل | |
| Shin Kalam | شین کالام | شان «خان» | | Wom | وم | Badal | بدل |
| Inzarkai (Kambarkai) | | اینځرکی «کم بَرکی» | | Meshkana (Mashkan, Shkun) | | مشکان «مشکان، شکون» | |
| Khanwan | خان وان | Charmir | چارمیر | Ghoreshtai (Sulemangul, Suleman Khel) | | غوربنتي «سلیمان ګل، سلیمان خیل» | |
| Shashi Ghar | ششي غر | غني | | Goway | ګو وي | Em Toy | ایم توی |

38 -Ghazni -Dawar road
39-Panjao
40-Naogiro
41-Zaura Lgad
42-NADAK
43-Miramur
44-Shall
45-Jadran and Shamal


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**نغلو:** ۳۷ ــ ۳۴، ۴۴ ــ ۶۹ «الف»: دا د کابل د سیند په کیڼي غاړې کې د سروبي په مقابل لور کې په لغمان کې یو کلی دی. له جلال آباد څخه تر نجراب او کوهستان پورې قافلې له همدې کلي څخه تېرېږي او دلته د پوځي ځواک د کمپ وهلو لپاره یو فوق العاده عالي ځای سته. دا کلی سیند ته زښت ډېر نږدې ودان سوی دی او له سروبي څخه پر رااوښتونکي گودر باندې باندې مسلط دی خو دا کلی په خپله کومه استحکامي پیاوړتیا نـهٔ لري (هولدیج، آی. بي. سي)

* **نغر کلی:** [46]: ۱۹ ــ ۳۲، ۲۶ ــ ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د «لوی زیړي غرهٔ» [47] په ختیځ کې د «بغ لنگ ماندې» [48] په اوږدو کې یو کلی دی.

**نغرک و تاجیک:** [49]: ــ ۳۴، ــ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د سرخاب په علاقه دارۍ کې د کابل د سیند د ښۍ غاړې په اوږدو کې یو کلی دی چې له ظلم آباد څخه ۲ مایله کوز موقعیت لري. استوگن وگړي: تاجیکان. (جنکینز)

**نـهرِ فولاد:** دا په کوز میدان کې د میدان د سیند د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی چې د کوروغ د غرهٔ په سویل لویدیځ کې موقعیت لري. (آی. بي.سي)

**نـهرِ ماسي:** [50]: ــ ۳۴، ــ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د بهسود په علاقه دارۍ کې یو کلی دی چې د کابل د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې د «قلعـهٔ ببری» [51] په مقابل لور کې واقع دی. استوگن وگړي: دهگانان او تاجیکان. (جنکینز)

**نـهر شاهي:** ــ ۳۴، ــ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د سرخاب په علاقه دارۍ کې یو کلی دی. استوگن وگړي: دهگانان، تاجیکان او اعراب. (جنکینز)

**نـائـب قلعـه:** ــ ۳۴، ــ ۶۹: دا د شیرپور ختیځې انتها ته نږدې یوه مربع ډوله کوچنۍ کلا ده. په ۱۸۸۰ز کال کې مخکې له دې چې افغان لښکر په شیر پور کې وپاشل سي د برتانیې د ۶۷ پلي ځواک یوې برخې دا ځای نیولی وو. (آی. بي. سي)

**نی قلعه**: دا د چهار دسته هزاره گانو په سیمې کې یو ځای دی.

**نیمان**: [52]: دا د شیخ علي هزاره گانو یوه څانگه ده.

**نیرون:** [53]: دا د جاغوري هزاره په سیمې کې یو ځای دی.

**نیتاق** : [54]: ۴۶ ــ ۳۴، ۴۵ ــ ۶۶ «الف»: دا د یخ ولنگ په ولسوالي کې یو پراخ او ښـهٔ کرل سوی منځغری دی چې د بند امیر پر درې ورکوزېږي. د منځغري په منځ کې یو کوچنی کلی دی چې له فیروز آباد څخه د سیند د غاړې په اوږدو کې راغلې لاره «له فیروز آباده ۲۱ مایله لیرې» د دې کلي له څنگه تـېـرېـږي؛ د همدې کلي په مقابل لور کې په دیوالونو کې محصور یو بل کلی هم سته. له اخیرالذکر کلي څخه پورته په هغـهٔ ټکي کې چې یو کوچنی منځ تشی ځای له منځغري سره یو ځای کـېـږي د یوې لوړې سطحې پر ژۍ باندې یوه کلا ده. له همدې کلا پورته لږ لیرې یو بل کوچنی کلی هم دی. (میتلند)

* **نجاران:** ۳۹ ــ ۳۴، ۳۵ ــ ۷۰ «ن»: دا د ننگرهار په ولایت کې د درهٔ نور د شمال په نږدې ۳ مایلۍ کې د کونړ د سیند د یوې څانگې د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی.

* **نجی**: ۲۴ ــ ۳۳، ۳۳ ــ ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د غزني د سویل ختیځ په نږدې ۱۲ مایلۍ کې یو کلی دی.

**نجیل:** [55]: ۵۳ ــ ۳۴، ۷ ــ ۷۰: دا د الیشنگ د سیند په درې کې یوه علاقه ده؛ د الیشنگ سیند کله نا کله د نجیل د سیند په نوم هم یادېږي. دا علاقه د درې په تقریباً مرکز کې واقع ده، چې د الیشنگ له کلي څخه تقریباً ۱۲ مایله لیرې موقعیت لري. دې علاقې کې «نیمچه کافر» وگړي اوسېږي، سره له دې چې دا خلک اوس مسلمان سوي دي خو بیا هم لا تر اوسه

[46] -NAGHAR KALAI
[47] -Loy Zeri Ghar
[48] -Baghlang Mandeh
[49] -NAGHARAK -O -TAJIK
[50] -NAHAR- I -MASI
[51] -Kala -i- Babari
[52] -NAIMAN
[53] -NAIRUN
[54] -NAITAK
[55] -NAJIL


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ځکه نیمچه کافر ګڼل کــېږي چې تر اوسه پورې ئــې د خپلو ګاونډیو کافرانو خوی او عادات او دودونه ساتلي دي. دوی خپل مالیات د لغمان افغان حاکم ته ورکوي. (میسن)

**یاد داشت**: د ۱۸۸۰ز کال په نقشي کې یوازې یو «نجیر» [56] ورکړل سوی دی ؛ دا ظاهراً هماغه ځای دی چې شرحه مو پورته ورکړه؛ خو ښاغلی واربرتن د لغمان د کلیو په لیست کې «نجیل» یادوي چې استوګن وګړي ئــې تاجیکان دي. راتلونکې شرحه وګورئ.

**نجیل دره:** [57]: ۵۳ – ۳۴، ۷ – ۷۰ «ن»: دا په لغمان کې یو کلی دی چې ۱۲ کلاګانې او کوچني کلي لري په لاندې ډول:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | سه خان دِه | Sih Khandeh | ۷ | دره توی | Daratui |
| ۲ | کلواته | Kalwata | ۸ | شاهي | Shahi |
| ۳ | قلعهٔ عطاء محمد: «۳ کلا ګانې لري» | | ۹ | ډکه وَتو | Dakawato |
| ۴ | کوته / کوتاه | Kotah | ۱۰ | دوه شاخ | Dwa Shakh |
| ۵ | کسوَک | Kaswak | ۱۱ | نو ره او اولواک | Naora and Ulwak |
| ۶ | مندول | Mandul | ۱۲ | دن کروه | Dun Kroh |

استوګن وګړي تاجیکان دي. درهٔ نجیل له غازي آباده تر فرجغان پورې د سړک په اوږدو کې واقع ده. (واربرتن)

* **نـک** : [58]: ۵۶ – ۳۳، ۲۴ – ۶۸ «ن»: دا د «وردګو جغتو» [59] په سیمې کې د میدان د ولایت په سویل کې د «سرسنګ» [60] په شمال ختیځ کې یو کلی دی.

* **نـاکام:** [61]: ۲ – ۳۳، ۱۱ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د «قربان خیلو» د ختیځ په نیــږدې ۶ مایلی کې «مانکي» [62] ته نیــږدې یو کلی دی. په دې نوم نور ځایونه: د غزني د سویل په نیــږدې ۱۰مایلی کې په ۲۴ – ۳۳، ۲۹ – ۶۸ «ن» کې؛ د پکتیا د ولایت د متون په شمال ختیځ کې، د کاریزونو په سیمې کې په ۲۹ – ۳۳، ۵۹ – ۶۹ «ن» کې؛ د غزني په ولایت کې خوشامند ته نیــږدې په ۲۵ – ۳۲، ۱۳ – ۶۸ «ن» کې؛ د غزني په ولایت کې د زرغون ښار په شمال ختیځ کې د یحیی خیلو په سویل لویدیځ کې په ۵۴- ۳۲، ۳۶ – ۶۸ «ن» کې.

* **نـاخیل**: [63] : ۲۹ – ۳۲، ۳۹ – ۶۷ «ن»: دا د غزني د ولایت په سویل کې د آبِ ایستاده په لویدیځ کې «بوري» [64] ته نیــږدې یو کلی دی. په دې نوم یو بل ځای د غزني د ولایت د مقر د شمال په نیــږدې ۴ مایلی کې په ۵۱ – ۳۲، ۴۶ – ۶۷ «ن» کې موقعیت لري.

* **نـاله** : [65] :۲ – ۳۴، ۲۱ – ۶۷ «ن» : دا د بامیانو په ولایت کې د هلمند د یوې څانګې په اوږدو کې «آجر» [66] ته نیــږدې یو کلی دی. په دې نوم نور ځایونه: «موشک» [67] ته نیــږدې او د «خرقول» [68] په لویدیځ کې په ۲۶- ۳۴، ۳۷ – ۶۷ «ن» کې؛ د میدان په ولایت کې «آدم خیلو» [69] ته نیــږدې په ۴ – ۳۴، ۳۰ – ۶۸ «ن» کې؛ د غزني په ولایت کې د جغتو په سیمې کې د ارغنداب د سیند په اوږدو کې په ۹- ۳۳، ۲۷ – ۶۷ «ن» کې؛ د غزني د ولایت په لویدیځ – سویل لویدیځ کې «درو» [70] ته نیــږدې په ۲۹ – ۳۳، ۱۰ – ۶۸ «ن» کې.

56 -Najir
57 -NAJIL DARA
58 -NAK
59 -Wardag o Jaghatu
60 -Sarsang
61 -NAKAM
62 -Manki
63 -NAKHILL
64 -Buri
65 -NALA
66 -Ajar
67 -Mushak
68 -Kharqol
69 -Adamkhel
70 -Daru


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

* **نـالی: نـاړی** : [71]:۱۳ – ۳۵، ۳ – ۷۱ : ناړی د کونړ، او اوس د ننګرهار د ولايت يوه علاقه داري ده چي ۳۷۷ کيلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـي چي بزګري پرګني دي د ۲۴۱۵ تر ۴۶۶۸ تـنو پوري اټکل سوی دی. دا علاقه داري له لويديځ لوري له کامديش او بر کونړ، له سويل لوري له دانګام، له ختيځ لوري له پاکستان سره کربنه لري. ناړی ۲۷ کلي لري چي هيڅ کلی ئـي له ۵۰۰ تنو څخه ډېـر وګړي نـهٔ لري. لنډ مهالي مجلي دا کلي په لاندي ډول ليست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Pashingar (Pashing), | | پشين گر «پشينگ» | | Dokalan | دو کلان | Barikot | بريکوټ |
| Liwafi | ليوافي | قريـهٔ نالی | | Khun Nokass | خون نوکاس | Incha Gul | اينچه گل |
| مچمانه «فنجابه» | | Suna Kala (Guna Kala | | سونا کلا «ګنه کلا» | | Dangpur | دنگ پور |
| سحره گل عليا | | Batas | بتاس | کوچي گل | | Machmana (Fanjaba) | |
| ازيرگل رضاگل | | Chehrah Gul -i -Ulya | | چهره گل عليا | | Sehra Gul- i -Ulya | |
| Shergul Khul | | شيرگل خول | | Shabili | شبـيلي | Azir Gul (Reza Gul) | |
| شاه مير | | Saw (Sahmaw) | | ساو «سهماو» | | شيرگل | |
| Sawkhol (Nawkhol), | | ساوخول «ناوخول» | | Zangar Gosha | | زنگار گوشه | |
| Shal Bandah | | شال بانده | | Shalikot (Shai Kot) | | شالي کوټ «شاهي کوټ» | |
| Dolai Khor | دولای خوړ | Qashang | قشنگ | Shinagar | شنا گر | Shaklit | شاکليت |
| | | خانانو کڅ | | Pul Saw | | پل ساو | |

له ۱۹۱۴ کلونو مخکي، د ناړی د کليو ليست لپاره وګوریٔ: ناړی

**ناله شيره :** [72] : – ۳۴، – ۶۸: دا د باميانو په ولسوالي کي د شهيدانو په منځغري کي يو کلی دی چي د ينغور هزاره ګانو ۲۰ کورنۍ په کي دي. ‹ميتلند›

**نرګس:** دا د دايزنګي په سيمي کي يو تګاو دی. په دې نوم يو کوتل په ۲۳ – ۳۴، ۵۲ – ۶۶ ‹الف› کي موقعيت لري. ‹لودويګ آدمک›

**نـَـمـَدَک:** [73] : دا د يخ ولنګ په ولسوالي کي د فيروز بهار کليو ته نـېـږدې يو کلی دی چي د هزاره سيدانو ۲۰ کورنۍ په کي ميشتي دي. ‹اې. بي. سي›

**نعمت زي:** [74]: –۳۳، – ۶۸ : دا د غزني د سويل ختيځ په ۳۰ مايلی کي يو کلی دی. ‹تورنتون› د ‹نعمتي› په نوم يو ځای په ۳۷ – ۳۳، ۶۸ – ۴۹ ‹ج› کي موقعيت لري ‹لودويګ آدمک›

**نان:** نن؟ : ۳۳، – ۶۹: دا د متون د شمال په ۱۵ مايلی کي د ‹دُني کوتل› [75] له لاړي جاجي ميدان ته د سرک په اوږدو کي يو کلی دی. ‹کار›

**نان آباد:** نن آباد ؟: [76]: – ۳۴، – ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د سرخاب په علاقه داری کي يو کلی دی. استوګن وګړي: غلزي. ‹جنکينز›

**نان چي:** [77]: – ۳۴، – ۶۹: دا د کابل د لويديځ په ۲/۱ – ۲ مايلی کي يو کلی دی. دلته د لويو لويو کلاګانو يوه لړی سته چي ګرد چاپيره ئـي د سپيدار او د ميوو ونې راتاو دي. په ۱۸۳۹ز کال کي مخکي له دې چي شاه شجاع کابل ته په بريالی توګه ننوځي همدلته ئـي دمه ونيوله. استوګن وګړي: قزلباش. د نانچي کوتل چي د کابل له دښتي راغځيدلی دی د چهاردهي په دري باندې منتهي کـېـږي. (هف لاک، آی. بي. سي)

71 -NALAI Or NARAI
72 -NALA SHERA
73 -NAMADAK
74 -NAMAT ZAI
75 -Duni Kotal
76 -NANABAD
77 -NANACHI


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ

**نانی:** [78]: ـ ۳۲، ـ ۶۸: دا د غزني د سویل ختیځ په نیــږدې ۴۲ مایلۍ کې او «ډنډ» ته نیــږدې یو کلی دی چې د «اندړو» او د سلیمان خیل غلزیو ځلور کلا ګاني لري. له دې ځایه اوبـهٔ ترلاسه کیدای سي. (براد فوټ)

**نانی غونډ** : [79]: ۵۷ ــ ۳۲، ۱۷ ــ ۶۸ «ن»: دا د غزني په سویل کې، د «پناه» سویل ته د تللي سړک په اوږدو کې په ځلورم منزل کې له پناه څخه ۳۷ مایله لیرې یو کلی دی. دې کلي ته نیــږدې د «شاکي خیل غلزیو» [80] یوه کلا سته؛ له دې کلي څخه اوبـهٔ او د اوبښ علوفه ترلاسه کیدای سي. (براد فوټ)

* **ننګه** : نانګه ؟ : [81]: ۲۸ ــ ۳۲، ۴۹ ــ ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د آبِ ایستاده په لویدیځ کې له «ناوې» څخه تر مقر پورې د سړک په اوږدو کې یو کلی دی.

* **ننګلام:** همدا شان وګورئ: نیمګلام: [82]: ۵۹ ــ ۳۴، ۵۵ ــ ۷۰ «ن»: دا د کونړ په ولایت کې د «لالم کڅ» [83] د سویل په څو مایلۍ کې د پیچ په درې کې یو کلی دی.

نور بیا

## * ننګرهار: دا د افغانستان په ختیځ کې...

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک، ځلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

---

78 -NANAI
79 -NANAI
80 -Shaki Khel Ghilzai
81 -NANGA
82 -NANGALAM Also see NIMGALAM
83 -Lalm Kats


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ